# فهرست

د حیواني علومو څانګې د آمر پیغام ....... ۲
د حیواني علومو څانګې لنډه پېژندنه ....... ۴
د حیواني علومو څانګې ارزښت: ....... ۴
د حیواني علومو څانګې د رهبري سلسله: ....... ۵
د حیواني علومو څانګې لاسته راوړنې: ....... ۵
د حیواني علومو څانګې تشکیلاتي چارت ....... ۶
د حیواني علومو څانګې د استادانو احصائیه ....... ۶
لرلید (Vision) ....... ۷
ماموریت (Mission) ....... ۷
د حیواني علومو څانګې ارزښتونه ....... ۷
د حیواني علومو څانګې ستراتیژیکي موخې ....... ۸
د حیواني علومو څانګې د استادانو پېژندنه ....... ۸
د حیواني علومو څانګې د څانګو پېژندنه ....... ۱۲
**حیواني علومو څانګې د ۱۴۰۳ کال د استادانو او محصلانو احصائیه** ....... ۱۲
د څانګې د استادانو احصائیه ....... ۱۳
**د حیواني علومو څانګې تشکیلاتي چارت** ....... ۱۳
د حیواني علومو څانګې فارغ التحصیل محصلین: ....... ۱۳
د حیواني علومو څانګې کمیټوي جوړښتونه ....... ۱۴
۱: د حیواني علومو څانګې علمي شورا: ....... ۱۴
۲: د کیفیت لوړاوي کمیټه: ....... ۱۵
۳: د علمي څېړنو یا تحقیق کمیټه: ....... ۱۵
۴: د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه: ....... ۱۶
۷: د نصاب کمیټه: ....... ۱۷
د حیواني علومو څانګې څېړنیز وضیعت ....... ۱۷

## د حیواني علومو څانګې د آمر پیغام

**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ**

**الحمد لله رب العلمين والصلواة والسلام علي المبعوث رحمة للعلمين سیدنا محمد خاتم الانبیاء والمرسلين صلی الله علیه وسلم وعلی اله وصحبه اجمعین و من تبع هداه بإحسان الي یوم الدین،**

**اما بعد:**

څرنګه چې لوړې زده کړې د یو هیواد له مهمو او مبرمو ضرورتونو څخه ګڼل کیږي، نو په همدې اساس د هیواد ځان بساینې ته رسیدل بغیر د لوړو زده کړو څخه ناشوني دي. ځوان په علمي، مسلکي او تخنیکي پوهه سمبال قشر د یوې متمدنې ټولنې او هیواد د ملاتیر ده، همدا بشري او د پرمختللي علم په زیور سمبال بشري نیرو کولای شي چې د هیواد لوړې ستونزې او د پرمختګ په لار کې ولاړ خنډونه په پوره توانایي سره له منځه یوسي. پوهنتونونه د همدې سترو موخو د تحقق په پار یواځیني مرکزونه دي چې لمړیتوب او رسالت یې د لوړو زده کړو وړاندې کول، علمي تحقیقاتو او تالیفاتو تر سره کول دي. پوهنځي او څانګې د پوهنتون په تخصصي برخو کې د زده کړو او خدماتو د وړاندې کولو سرچینې دي، او عمده هدف یې د پوهنتون د ماموریت او لرلید ته کار کول دي. کرنیز سکتور د ګران هیواد افغانستان د اقتصاد اساس ګڼل کیږي، افغانستان یو کرنیز هیواد ده چې تر ۷۵ سلنه وګړي یې په کرنه او مالداري مشغول دي، د دې لپاره چې مالداري له عنعنوي او دودیزې روزنې څخه عصري یا پرمختللي روزنې ته تبدیله شي، له هر راس حیوان څخه زیات عاید په لاس راشي او د مالداري په سکتور کې شته ناخوالې له منځه یوسي. د حیواني علومو څانګه  تل کوشش کوي تر څو د تدریس تر څنګ د علمي تحقیقاتو په اساس د هیواد او سیمې په کچه د ستونزو په حلولو کې کلیدي رول ولوبوي او همدا چاره تر ډیره بریده د له اړونده ذیربط ریاستونو سره په پوره تفاهم سره تر سره شوې ده، چې اړوند تحقیقات یې د مالداري روزنې په برخه کې تر سره کړي دي او د خپلو عملي او تحقیقاتي څیړنو پایلې یې د پوهنځي ریاست له لارې له اړونده ریاستونو سره شریکې کړي دي. د حیواني علومو څانګه د کرنې پوهنځی په چوکاټ کې له غوره څانګې څخه شمیرل کیږي چې د پوهنځی او  پوهنتون په کچه په غوره کچه تحقیقات، مجهز تدریسي تعمیر، لوړ رتبه استادان او همدارنګه یو باب د غوښینو چرګورو تحقیقاتي فارم لري. چې استادان او محصلان د عملي څیړنو په پار ترې استفاده کوي.

په ډیر درنښت

پوهنیار عبدالمجید بنداړخیل

د حیواني علومو څانګې آمر

### د حیواني علومو څانګې لنډه پېژندنه



حیواني علومو څانګه دکرنې پوهنځی په چوکاټ کې په ۱۳۹۳ هجري لمریز کال کې تأسیس شوې دی کوم چې ځوان، ژمن او مسلکی کاري ځواک ټولنې ته وړاندې کوي. په حیواني علومو څانګه کې پنځه تنه استادان ګمارل شوي دي، چې دوه تنه یې د ماسټرۍ تحصیلي درجې لرونکي، دوه تنه یې د فوق لیسانس تحصیلي درجې لرونکي او یو تن اوس د ماسټرۍ برنامې په زده کړو بوخت دی، چې له جملې څخه یې یو تن پوهنمل علمي رتبې، درې تنه یې د پوهنیار علمي رتبې او یو تن یې نوماند پوهنیار علمي رتبې لرونکی دی. د حیواني علومو څانګې د پنځه تنه استادانو له جملې څخه یې یو تن د پوهنتون علمي مرستیال او یو تن د څانګې رسمي آمر په توګه دنده پر مخ وړي. همدارنګه د حیواني علومو څانګې تر دا مهاله ۲۴۰تنه علمي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي او د ۸۸ تنو شاوخوا محصلین بر حال په تدریس بوخت دي.

په ذکر شوي څانګه کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا د تائید شوي کریکولم او درسې مفرداتو مطابق له ملي او علمي معیارونو او ستندردونو سره سم تدریس تر سره کېږي. د حیواني علومو څانګې تحصیلي دوره اته سمستره په نظر کې نیول شوی دی، چې په څلورو تحصیلي کلونو کې تکمیل کېږي. په دې څلور کلن روزنیز پروګرام کې ۱۶۶ کریډیټه په نظر کې نیول شوي دي چې د کریډیټ سیستم لایحې ته په کتنې سره څانګه کولای شي چې لږ تر لېږه ۱۲۹ کریډیټه بشپړ کړي. کریډیټ هغه درسي واحد دی، چې د هغه په اساس د سمسترونو په توپیر سره د تحصلي دورې نصاب او همدارنګه په دې نصاب کې د هر مضمون ونډه ټاکل کېږي.

### د حیواني علومو څانګې ارزښت:

پوهیږو چې کرهنه او مالدارۍ د ملي اقتصــاد د پیاوړي کیدو مهمه برخه ده دا ســکتور په حقیقت کې د خلکو ژوند تامینوي د ګران هیواد افغانســتان د اقتصـاد په ټینګښــت او ثبات کې د حیواني محصــولاتو ارزښــت خورا څرګند دي په هره اندازه چې زموږ حیواني تولیدات زیاتیږي په همهغه اندازه د خلکو نیکمرغي او د ژوند ســطحه لوړه ځي، ځکه نو د حیواني ســکتورونو د پراختیا او پرمختیا مرحلي زموږ په هیواد کې باید تر هر څه دمخه ولټول شي، د ټولو اقتصــادي، اجتماعي، ســیاسي او نظامي برخو بنیاد تشــکیلوي او د ســالم اقتصـاد تصـمیم نیوونه کې دي د بیارغونې ټول اړخونه یو منظم پلان ته اړتیا لري چې باید د احصــائیوي ارقامو په اســاس د جامعي راتلونکي ســتونزي حل کړي. په تاسـف سره تیر شـوی ناورین د ګران هیواد په کرنه او مالدارۍ باندې ناوړه اغیزه کړې ده او د خلکو ســتونزې نورې هم ورسره زیاتې شـــوې دي. باید خپلې ټولې پروژې د یوه منظم پلان په چوکاټ کې د عمل ډګر ته وړاندې کړو تر څو د مالدارانو او فارم لرونکو په ژوندانه کې مثبت بدلون راشي او له بلې خوا دخلکو په روغتیایي حالت، مناســب اقتصــاد ســاتلو او غذا کې مهم رول ولوبوي دا کړنې هغه وخت امکان پیداکوي چې د حیواني علومو په څانګه کې مســلکي او علمي کادرونه ولرو چې د روزنې ځای یې د کرنې پوهنځی او په هغه پورې اړوند څانګې شمیرل کیږي تر څو ځوان مسلکي فارغان، علمي کادرونه او د همدې څانګو متخصصین د

خپلو هيواد والو لپاره په علمي او عملي توګه د خدمت جوګه وګرځي او په پايله کې په ټولنه کې شـــته ستونزي ليري او د خلکو د هوسايني، سوکالی او ښه ژوند وسيله په وګرځي.

**د حيواني علومو څانګې د رهبري سلسله:**


د حيواني علومو څانګې بنياد د کرني پوهنځي په چوکاټ کې په (۱۳۹۳) لمريز کال کې کيښــودل شــو. په هغه وخت کې د کرني پوهنځي کومه ځانګړې اداري او تدريسيـــ ودانی نه درلودله او ټولې تدريسيـــ او اداري چارې يې د پکتيکا په پخواني مرکزي دارالعلوم (اوســـني پوهنتون) ودانی کې تر سره کيدلی. مګر د وخت په تيريدو سره په ۱۳۹۸ لمريز کال د هندوســتان هيواد د ســفارت پواســطه د کرني پوهنځي ته ځانګړې ودانی جوړه شـوه چې ياده ودانی دوه منزلونه او همدارنګه ټولټال ۳۰ ادراي او تدريسيـ اطاقونه لري. چې پـه اوس وخـت کې د لوړو زده کړو محترم وزارت، پوهنتون رهبري پـه ځـانګړې لطف او د پوهنځي اداري په زياتو کوشـشـونو سره د کرني پوهنځي ټول اداري او تدريسيـ اطاقونه په معاصره نوې تکنالوژي ( کيمرې، سـکرينونو. پراجکتور، ديوالي سـاعـت، لاودسـپيکرونو، انترنيت او منظمو چوکيو) سمبال شـوي دي. د حيواني علومو څانګې د آمريت پوست له ايجاد نه تر نن ورځ پورې په لاندې ډول ليکلای شو.

- ❖ پوهنمل محمديوسف واحديار ( د حيواني علومو څانګې آمر ۱۳۹۷- ۱۴۰۲ لمريز ليرديز کال پورې).
- ❖ پوهنيار عبدالمجيد بنډارخيل ( د حيواني علومو څانګې دويم آمر۱۴۰۲-۱۴۰۴ لمريز ليرديز کال پورې).

**د حيواني علومو څانګې لاسته راوړنې:**

- د حيواني علومو څانګه په تشـــکيل کې آمريت لري چې د ميزونو، چوکيو او مجهز دفتر سربيره د انترنيت اسانيتاوي هم په کې موجودي دي؛
- د حيواني علومو څانګه مجهز تدريسيـ اطاقونه لري چې په ميزونو، چوکيو ، انترنت، سـکرينونو او نورو وسايلو مجهز دي؛
- في الحال د محصــــلينو د علمي پروژو د اجرا او د اســـتادانو د علمي څيړنو د تر سراوي لپاره د پوهنتون او پوهنځي په شفقت سره موقتي د غوښينو چرګورو روزلو لپاره مشخص ځای ورکړل شوی او په روان کال کې به ورته يو مجهز د غوښينو چرګورو فارم جوړ شي؛
- د حيواني علومو څانګه د يو منظم ۵ کلن تائيد شـــوي ســـتراتيژيک پلان درلودونکې ده چې په عملياتي پلانونو کې يې اوليت تحقيقاتو او نوښـــتونو ته ورکړل شـــوی او هر کال د يو منظم چک ليست پواسطه ارزول کيږي؛
- د حيواني علومو څانګه د يو معياري او د بازار د شرايطو سره ســـم منل شــوی کريکولم لري چې تر اوســـه پورې څو ځله د لوړو زده کړو وزارت د تحصـــيلي نصـــاب د رياســـت لخوا د کرني پوهنځيو د کلسترونو پواسطه نوی شوی.


## د حيواني علومو څانګې تشکيلاتي چارت




( پورته ډياګرام د حيواني علومو څانګې  نوی تشکيل را ښئي)

### د حيواني علومو څانګې د استادانو احصائيه

د د حيواني علومو څانګه ټولټال ۵ تنه استادان لري چې له جملې څخه يې د علمي رتبې په اساس يو تن پوهنمل، درې تنه پوهنيار او يو تن نوماند پوهنيار او همدارنګه د تحصيلي سويې په اساس دوه تن ماستران، دوه تنه فوق ليسانس او ۱ تن ليسانس درجې لرونکي دي.




( پورته ګراف د حيواني علومو  څانګې د استادانو احصائيه د رتبې او علمي سويې په اساس را ښئي)

### لرليد (Vision)

د حيواني علومو څانګه به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې حيواناتو روزنې، تغذيې، نسل اصلاح، حيواني محصولاتو پروسيس او ساتنې په برخه کې د پوهو، ژمن او مسلکي اشخاصو په روزلو سره د هيواد په کچه سيال او با کيفيته څانګه وي.

## ماموريت (Mission)

د حيواني علومو څانګه د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتيا مطابق په ملي کچه سيال او باکيفيته تدريس، تحقيق او خدمات وړاندې کوي.

## ارزښتونه

1. ټول اسلامي او ملي ارزښتونه په پام کې نيول؛
2. حساب ورکوونه؛
3. مسلک ته ژمنتيا؛
4. صداقت او ريښتينولي؛
5. له منطقوي، نژادي، قومي، ژبني او مذهبي تعصب څخه لريوالی؛
6. مسلکيتوب؛
7. د ځواب ورکوونې ورتيا؛
8. د همکارۍ او همغږۍ پياوړې روحيه؛

## د حيواني علومو څانګې ستراتيژيکې موخې

- په اسلامي، ملي او مسلکي روحيه د محصلانو روزل.
- د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژيو او لوړو زده کړو وزارت د قوانينو، لوايحو او طرزالعملونو سره سم د حيواني علومو اړوند مسلکي پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترويجول.
- محصلانو ته د حيواناتو د روزنې، محصولاتو توليد، پروسيس، ذخيرې او بازارموندنې په برخو کې کافي معلومات ورکول او په ورځنې ژوند کې تطبيقول.
- محصلانو ته د مختلفو اهلي څارويو د روزلو، ادارې، تنظيم او د مختلفو حيواني محصولاتو د پروسيس او بازار موندې په برخه کې کافي معلومات وړاندې کول.
- محصلانو ته د مالدارې سکتور په برخه کې  د خامو موادو د برابرولو او مالدارانو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارايه کول.
- ګټلي محصلين به د فراغت څخه ورسته د ټولنې په مختلفو  برخو او کار بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د توليد توانايي ولري.
- برحال محصلينو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګيزه ورکول؛
- د پوهنځي موخې تعقيبول.

## د حيواني علومو څانګې د استادانو پيژندنه

د حيواني علومو څانګې د استادانو مخينه په لاندې توګه تشريح شوې ده.



نوم او تخلص:  عبدالمجيد بنداړخيل

د پلار نوم:  حاجي محمد

علمي رتبه: پوهنيار

تحصيلي درجه: فوق ليسانس

تخصصي رشته: عمومي

( لیسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار:۳ (مقالې)

د تقرر نیته: ۱۴۰۱/۰۶/۲۱

د تولد کال: ۱۳۷۴هـ ش.

د تلیفون شماره: 0093791722995

ایمیل ادرس: majeedbandarkhil123@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د حیواني علومو څانګې استاد او آمر).

---



نوم او تخلص:  محمد یوسف واحدیار

د پلار نوم:  نظر خان

علمي رتبه: پوهنمل

تحصیلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: عمومي

( لیسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري د کابل پوهنتون څخه  لري)

اصلي او فرعي اثار: ۷ (تیزیس، ترفیع اثر او مقالې)

د تقرر نیته: ۲۱/۹/۱۳۹۶

د تولد کال: ۱۳۷۱هـ ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۹۰۱۱۱۰۱۴  / ۰۰۹۳۷۸۹۷۲۴۷۲۲

ایمیل ادرس: m.yousof.wahidyar@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د پوهنتون د علمي او محصلانو چارو مرستیال او د حیواني علومو څانګې استاد).



نوم او تخلص:  محمد بلال هلال

د پلار نوم:  سید محمد

علمي رتبه: پوهنیار

تحصیلي درجه: ماستر

تخصصي رشته: عمومي

( لیسانس د ننګرهار پوهنتون او ماستري د کابل پوهنتون څخه لري)

اصلي او فرعي اثار: ۴ (مقالې او تیزیس)

د تقرر نیټه: ۲۲/۹/۱۳۹۶

د تولد کال: ۱۳۷۱ه ش.

د تلیفون شماره: 0093771078880

ایمیل ادرس: mbhilal444@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د حیواني علومو څانګې استاد او د پوهنځي مرستیال).

---



نوم او تخلص: حکمت الله رحیمي

د پلار نوم: رحیم ګل

علمي رتبه: نوماند پوهنیار

تحصیلي درجه: لیسانس

تخصصي رشته: عمومي

( لیسانس د کندهار پوهنتون څخه او ماستري په کابل پوهنتون کې جریان لري)

اصلي او فرعي اثار: ۲(مقالې)

د تقرر نیټه: ۲۴/۲/۱۳۹۸

د تولد کال: ۱۳۷۲ه ش.

د تلیفون شماره: ۰۰۹۳۷۸۴۸۲۰۸۰۱

ایمیل ادرس: hikmat.rahimi786@gmail.com

اکادمیک موقف: ( د حیواني علومو څانګې استاد

---



نوم او تخلص: میاخان محمدي

د پلار نوم: محمد خان

علمي رتبه: پوهنیار

تحصیلي درجه: فوق لیسانس

تخصصي رشته: عمومي

( لیسانس د خوست شیخ زاید پوهنتون او ماستري نلري)

اصلي او فرعي اثار: ۲ (مقالې)

د تقرر نیټه: ۲۴/۷/۱۴۰۳

د تولد کال: ۱۳۷۷ه ش.

د تليفون شماره: ۰۰۹۳۷۷۳۵۴۴۱۷۷ / ۰۰۹۳۷۹۳۳۲۴۰۹۰

ايميل ادرس: miamohammadi123@gmail.com

اکادميک موقف: ( د حيواني علومو څانګې استاد)


---

## حيواني علومو څانګې پېژندنه:

پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسه په (۱۳۹۱ هـ.ل) کال کې په پکتيکا ولايت کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په درلودلو سره تأسيس شوه. په ( ۱۳۹۳) کال کې د نوموړي مؤسسې په تشکيل کې د زراعت پوهنځی هم منځ ته راغی. چې ياد پوهنځي په خپل چوکاټ کې ۲ څانګې درلودې چې له هارټيکلچر او حيواني علومو څخه عبارت دي. د حيواني علومو څانګې له ايجاد سره سم يادې څانګې ته خپل رسمي استادان کامياب نشول او تر ۱۳۹۶ لمريز ليږديز کال پورې د کرنې پوهنځي د غوره رهبرۍ او خاص تلاشونو په نتيجه کې د هارټيکلچر څانګې د استادانو او همدارنګه د قراردادي استادانو پواسطه اوله دوره محصلين ټولنې د خدمت په موخه وراندې کړل، په ۱۳۹۷ کال کې نوموړې څانګې ته ۳ تنه رسمي استادان کامياب شول. همدارنګه په لمړي ځل يې په ۱۳۹۶ لمريز ليږديز کال کې ( ۲۴ ) تنه محصلين ټولنې ته د خدمت په موخه وراندې کړل. چې اوس مهال ياده څانګه ۵ تنه رسمي استادان لري چې له جملې څخه يې ۲ تنه ماستران او ۲ تنه د فوق ليسانس او يو تن يې د ليسانس په کچه لوړې زده کړې لري او همدارنګه ۱ تن استاد د پوهنمل علمي رتبې لرونکي او ۳ تنه د پوهنيار علمي رتبې لرونکي او ۱ تن د نوماند پوهنيار علمي رتبې لرونکی دی، په ياده څانګه کې اوس مهال ټولټال (۸۸) محصلين په زده کړو بوخت دي.


## د حيواني علومو څانګې تشکيل

د حيواني علومو د څانګې تشکيلاتي چارت په لاندې ډياګرام کې ښودل شوی ده.





( پورته ډياګرام د حيواني علومو څانګې تشکيل را ښئي)

## د حيواني علومو څانګې د استادانو احصائيه



( پورته ګراف دحیواني علومو د څانګې د استادانو احصائیه د رتبې او علمي سویې په اساس را ښئي)

**د کرنې پوهنځي د علوم حیواني څانګې د محصلینو احصائیه**




( پورته ګراف د کرنې پوهنځي د حیواني علومو د څانګې د محصلانو احصائیه را ښئي)

**د حیواني علومو څانګې کمیټوي جوړښتونه په لاندې ډول دي.**


- ❖ د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه
- ❖ د نصاب کمیټه
- ❖ د تضمین کیفیت کمیټه
- ❖ د تحقیق یا علمي څیړنو کمیټه

**د حیواني علومو څانګې فارغ التحصیل محصلین:**

| دوره | کال | د فارغ شوي محصلینو تعداد |
|---|---|---|
| لومړی دوره | ۱۳۹۶ | ۱۵ |
| دوهمه دوره | ۱۳۹۷ | ۱۷ |
| دریم دوره | ۱۳۹۸ | ۵۷ |
| څلورمه دوره | ۱۴۰۰ | ۴۲ |
| پنځمه دوره | ۱۴۰۱ | ۴۲ |
| شپږمه دوره | ۱۴۰۲ | ۳۵ |
| اوومه دوره | ۱۴۰۳ | ۳۲ |
| مجموعه | | ۲۴۰ |


### ۱: د څانګې علمي شورا:

حیواني علومو څانګه منظمه علمي شورا لري او هره میاشت په منظم ډول د مهال ویش له مخې نوبتي ناستې تر سره کوي، په داسې حال کې چې د یادې شورا رهبري د څانګې آمر له خواه، منشي يې د استاد روح الله نیازي او همدارنګه غړي يې د څانګې ټول کادري غړي دي/ لري.





### ۲: د کیفیت لوړاوي کمیټه:

د تضمین کیفیت کمیټه دڅانګې له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې يې تشکیل شوي دي، په یاده کمیټه کې ۴ غړي شتون لري چې د څانګې د علمي شورا له خوا تائید شوي دي





### ۳: د علمي څېړنو یا تحقیق کمیټه:

د علمي څېړنو کمیټه د څانګې له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې يې تشکیل شوي دي، یاده کمیټه کې ۴ غړي شتون لري چې د څانګې د علمي شورا له خوا تائید شوي دي. د تحقیق کمیته تل هڅه کوي تر څو د سلیمان غر مجلې لپاره چې د پوهنتون داخلي ملي ژورنال ده او د نورو ملي او نړیوالو ژورنالونو لپاره د علمي مقالو چمتو کولو په موخه د څانګې په کچه خپله اماده ګي ونیسي، ددې ترڅنګ د محصلانو د علمي څېړنو په برخه کې په پوره معنی ژمنه ده او ذکر شویو علمي څېړنو لپاره د بې ساري کوششونو په نتیجه کې تر اد مهاله د حیواني علومو څانګه دکرنې پوهنځي لپاره په یاده برخه کې زیاتې لاسته راوړنې لري.





### ۴: د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه:

د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه د څانګې له مهمو او معتبرو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی دی، په یاده کمیټه کې ۴ غړي شتون لري چې د څانګې د علمي شورا له خوا تائید شوي دي. یاده کمیټه چې خپل فعالیتونه یې د څانګې په کچه د نویو ستراتیژیک پلانونو د تدوین، د ستراتیژیک پلانونو په تهیه او ترتیب باندې د اګاهي او پوهیدنې سیمینارونه او همدارنګه د ستراتیژیک پلان عملیاتي پلانونو د تطبیق، ارزونې او ستراتیژیو د اجرا په پار خپلې کړنې تر سره کوي ترڅو د یو منظم پلان په شتون کې څانګه خپلو ستراتیژیکو موخو ته په اسانۍ سره ورسرېږي، چې اوس مهال د څانګې په سطحه پنځه کلن ستراتیژیک پلان شتون لري.




### ۴: د نصاب کمیټه:

د نصاب کمیټه د څانګې له مهمو کمیټو څخه شمیرل کیږي چې په لاندې ډیاګرام کې یې تشکیل ښودل شوی دی، په یاده کمیټه کې ۴ غړي شتون لري چې د څانګې د علمي شورا له خوا تائید شوي دي.




**د حيواني علومو څانګې څېړنيز وضيعت**

د حيواني علومو څانګه  د ۵ پنځه تنه مستعدو او مجربو استادانو په درلودلو سره په يو غوره څېړنيز وضيعت کې قرار لري، په داسې حال کې چې د استادانو د داخلي او خارجي مقالو څېړنيزو اثارو شمير تر (۱۸) اتلسو پورې رسيږي. ياده څېړنيزه کچه د پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسې په کچه غوره او همدارنګه ياده څانګه د دې څېړنيز وضيعت افتخار لري. علاوه لدې څخه اوس هم د څانګې استادان او برحال محصلين په څېړنو بوخت دي تر څو د سيمې او منطقې شرايطو او د پوهنځي او مؤسسې امکاناتو ته په کتو سره د ستونزو د حل په موخه څېړنې تر سره کړي، يادې څېړنې په ساحوي، روزنيز او همدارنګه په لابراتوري شکل سره صورت نيسي چې له جملې څخه يې د حيواني علومو څانګې د غوښينو چرګورو د روزنې فارم د دې چارې لپاره په اختيار کې لري.

همدارنګه د حيواني علومو څانګه د معياري نصاب په درلودلو سره د نظري زده کړو تر څنګ خپلو ګلاليو محصلينو ته په عملي ډول هم د زده کړو زمينه برابره کړې ده چې په دې لړ کې د حيواني علومو څانګې محصلان مختلفو فارمونو، کلنيکونو او مسلخونو ته د کرنې، اوبو لګولو او مالداري او ښاروالي رياستونو سره د دوه اړخيزو همکاريو د هوکړه ليک له مخې عملي ساحو ته علمي سيرونه ترسره کوي.